PROPERTY OF ACKU

اوونيزه خپلواکه تحليلي خپرونه

اراده

د افغان نشراتي مرکز خپرونه

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
AMRC

سال تأسیس ۱۳۷۹ ه ش

سال دوم شماره چهل و نهم
شماره مسلسل ۷۳
چهار شنبه اول عقرب ۱۳۸۱ ه ش
۱۷ شعبان المعظم ۱۴۲۲ هـ ق
۲۳ اکتوبر ۲۰۰۲ م

هندوکش برف گرفت



شام روز جمعه بیست و شش میزان بارش برف در بلندا های هندوکش سالمند آغاز و تانخستین ساعات روز فردای همان شب ادامه یافت که ضخامت برف نشسته به روی زمین در برخی از نقاط تا بیست و بیست وپنج سانتی متر قابل اندازه بود. در حالیکه آمدو نشست برف را در نخستین ماه از فصل پائیز مژده گانی بهاران خرم سال آینده- ازپس تحمل سال ها بی آبی و کم آبی میدانیم، مساله آمدو شد در امتداد سالنگ ها را در هنگام زمستان از نظر نمی اندازیم که نه جنبیدن و کمتر جنبیدن درنه از میان برداشتن مشکل موجود از سر راه، آشکارا نمایانگر بی تفاوتی مسوولین امور کشور، در برابر حیات هزاران انسانیست که روزانه در این مسیر در حرکت اند کم از کم درازی بیست وچهار ساعت، در هر پنج دقیقه یک موتر، طول تونل سالنگ را می پیماید و ازجنوب به شمال و باالعکس آن از شمال به جنوب ره میزند، موتر های حامل مسافرین، موتر های حامل مواد غذایی، تعمیراتی و هرآنچه را که زندگی لازم دارد.

بقیه ص ٦

کمیسون تسوید قانون اساسی تعیین گردید

در توافقات بن تصریح گردیده بود تا بعد از دوره موقت و در نخستین ماه های اداره انتقالی کمیسون قانون اساسی تعیین و به کار خویش آغاز نماید. که اینک محترم حامدکرزی رئیس اداره انتقالی اسلامی افغانستان ضمن فرمانی کمیسون تسوید قانون اساسی کشور را اخیراً اعلان داشته که در رأس آن محترم پوهاند نعمت الله شهرانی معاون رئیس اداره انتقالی اسلامی افغانستان قرار داشته و در ترکیب آن علمای دین، قانوندانان و حقوقدانان جمله نه تن عضویت دارند که دو تن آن زن می باشد. این کمیسون باید طرح قانون اساسی آینده کشور را تسوید نموده و بعداً جهت تدقیق و بررسی به کمیسون تدقیق بسپارند.

ص ۷

اداره انکشاف بین المللی ایالات متحده امریکا

وزارت مخابرات را کمک میکند

اداره انکشاف بین المللی ایالات متحده امریکا USAID درسه پروژه مهم و ارزشمند با وزارت مخابرات اداره انتقالی اسلامی افغانستان کمک میکند.

یک منبع مسوول وزارت مخابرات به خبرنگار اراده اظهار داشت:

پروژه اول که ارتباط مخابراتی مرکز را با هفت ولایت افغانستان توسط دستگاه کودان تأمین خواهد کرد، ادارات مرکزی و ولایتی وزارت خانه ها را قادر خواهد ساخت که بعد از سالها مستقیماً با هم ارتباط بگیرند.

ص۷

هموطنان خوب من! اینجا "پرورشگاه" است. این عمارت نیاز مندترین کودکان کشور مانرا در خود جا داده است اینجا کودکان پایوش های مناسبی به پاندارند، از لباس زمستانی آنان تاکنون خبری در دست نیست، ایشان غذای مناسب وکافی در دسترس ندارند.

اینان کودکان معصومی اند که جنگ والدین و یا یکی از آنها را از ایشان ربوده است دستگیری ازین کودکان یتیم وظیفه دینی و اخلاقی همه ماست، بیایید آنچه را که در توان داریم، بدست خودمان به این جمع بی نوا اهدا کنیم.

د لوی او بښونکي خدای په نامه

سرمقاله

آیا د کوکنارو د نه کرلو فرمان له ګواښ سره مخ نه دی؟

د څو ورځو راپدیخوا په پرله پسې توګه د ارزګان، وردګو، ننګرهار او ځینو نورو سیمو اوسیدونکي او بزګران د کوکنارو د کرلو ګواښونه کوي او په زغرده وايي چې سږکال به هم کوکنار وکري.

زمونږ بنه په یاد دي چې تیرکال کله چې د کوکنارو د بوټو دمنځه وړلو په هلکه د دولت لخوا حکم صادر شو، نوکوکنار څه په ګل کې ووُاو څه په غوزو کې، خو سره ددې هم بزګرانو له لرې چنې وهلو څخه وروسته د یوه جریب کوکنارو په بدل کې چې د دولت لخوا ۲۰۰ ډالره تاکل شوي وو، په ۳۵۰ ډالرو رضا شول او خپل رسیدلي فصلونه یې واړول او په دې توګه یې د خپل موقت دولت د امر اطاعت او فرمان برداري وکړه.

۷مخ

"پردې کټ تر نیمو شپو وي"

که نننۍ نړۍ تـه وګورو او ښه ورتـه ځیر شو نـو ګورو هغـه ملتونه چې نن ډیر پرمخ تللي، خلك يې سوكاله او آرام ژوند لري. د علم او تخنيك له بركته يې نوم او خلك وياړلي ګرځي او ديوه سويچ په وهلو خپل ټول مشكلات حل كوي او د دنيا وروسته پاتي ملكونه يې مرستې ته كه بشري وي او كه علمي اړ دي دا ټول دهغه ملت دخلكو د زيار، علم، له هيواد سره د مينې او په ځان د باور نتيجه ده.

سره ل دي چې افغانانو درويشت كاله مشكلات، مهاجرتونه، د عزيزانو وير او د هيواد ويجاړتيا وليدله او څه ناڅه د نړۍ له حالاتو هم خبر شول خو بيا هم دوی تر اوسه " د سوال په اوبو ژرنده ګرځوي " او دبل مرستې ته لاس ترزنې ناست دي. دا تر څو به موږ بې غمه ناست يو او تر څو به د بل اوړو، غوړيو او نقدو پيسو ته سترګې په لار او په انتظار كې يو. كه له يوې خوا انتظار د مرګ نه هم سخت دی له بلې خوا زموږ هيواد مسلمان اوخلك مو مسلمانان دي او په همدې برخه كې خدای (ج) په قرانكريم كې فرمايي (هغه قوم چې پخپله خپل حال بدل نه كړي زه يې نه بدلوم) يعنې دا چې كه كوم قوم كوښښ ونه كړي، علم ونه كړي او شپه او ورځ دخپل ژوند دآرامۍ په خاطر په ځان مشكلات تير نه كړي نو هغه قوم به تل ذليله او بدبخته وي.

د پښتو ژبې ستر شاعر او د تورې اوقلم خاوند خوشحال خان ختك هم دغه موضوع پخپل شعر كې داسې تمثيل كړيده.

چاچې خپل قدر پخپله وكړه ګله
ستاره دهغه قوم په غروج شوله
خدای‌هم نه بدلوي حال د هغو خلكو
څوك چې نه بدلوي خپل حالت پخپله

پر موږ فرض ده چې د الله (ج) احكام وپيژنو او پرې عمل وكړو او كه عمل پرې ونه كړو نو د تل لپاره به وروسته پاتې اوسو.

نو وياړلي افغانان چې د نړۍ په تاريخ كې وياړلي مقام لري او په دې وروستۍ پيړۍ كې يې يوځل بيا خپله توره او ميړانه نړيوالوته څرګنده كړه. ولې او څنګه د هيواد د بيا رغاونې، دخلكو د آرامۍ او د خپل ژوند د ښه كولو لپاره لاس تر زنې ناست دي؟

ايا استعدادنه شته؟ كه بشري قوه نه شته؟ او كه مادي توان نه شته؟ دا ټول شته خو ځينې په شعوري ډول نه غواړي چې دا هيواد دې آباد شي او ځينې نور د پيسو زيرمه كول غواړي او يو شمير هم بې وزلي دی.

نو نور بايد افغانان د نورو هيوادونو د مرستو ترڅنګه پخپله هم همت وكړي او خپل هيواد آباد كړي، د علم دروازې پرانيزي، شپه او ورځ كاروكړي او هرڅوك دا مسووليت احساس كړي چې دا وطن زما وطن دی او راتلونكي كې به خپل اولاد ته زه ځواب وركوم په زړه سوی او ميړانه متې را ونغاړي او كاروكړ او له موجوده امكاناتو څخه كار واخلي ځكه په حركت كې بركت وي.

خوشحال

د ایکو سازمان هم د افغانستان په بیا جوړولو کې برخه اخلي

دتلې دمياشتې په ۲۲ مه نيټه د تركې هيواد د استانبول په ښار كې د ايكو اقتصادي سازمان كلنۍ غونډه جوړه شوه. دغه سازمان ۱۷ كاله مخكې د ايران - تركې او پاكستان هيوادونو په ګډون د اقتصادي همكاريو لپاره جوړ شو چې لس كاله وروسته يې د منځني آسيا پنځه هيوادونه هم غړي شول دغه راز افغانستان هم ددغه سازمان غړی دی. د ايكو سازمان په سږنۍ كلنۍ غونډه كې د افغانستان د هيات مشري محترم حامد كرزی دافغانستان د اسلامي انتقالي دولت مشر كړی چې ددې غونډې اساسي هدف هم دافغانستان په بيا جوړولوكې د ايكو د غړو هيوادونو لافعال ګډون دی.

دايران جمهور رئيس خاتمي چې هيواد يې په وروستيو دووكلونو كې د ايكو مشري په غاړه درلوده د غونډې په پرانيستنه كې د افغانستان د بيا جوړولو مسئلې ته پوره اشاره وكړه او ددې سازمان غړي يې په دې ستره دنده كې د ګډون لپاره وهڅول. د ايكو سازمان راتلونكي مشري به د تركې هيواد په غاړه وي او همداراز د تركې هيواد په افغانستان كې د سوله ساتې ځواكونو مشري هم په غاړه لري چې دادواړه مسئلې ددغه هيواد ګډون د افغانستان په بيا جوړولو كې لاهم جوتوي. په همدې ډول دايكو سازمان ټول غړي چې په هغه كې زموږ د هيواد په ګډون پاكستان، ايران، تركيه، قزاقستان، ازبكستان، قرغزستان، تركمنستان او آذربايجان شامل دي دنده لري چې له افغانستان سره مرسته وكړي ځكه له يوې خوا دغه هيوادونه له جغرافيايي پلوه افغانستان ته ډير نږدې پراته دي او له بل پلوه ټول اسلامي او آسيايي هيوادونه دي چې تر ډيره حده ددغو هيوادونو خلك د افغانستان له خلكو سره ګډمذهب، فرهنګ او ژبې لري، د ايران د بهرنيو چارو وزارت د اقتصادي مرستيال خبره چې د افغانستان لپاره بايد د ايكو سازمان ځانګړي صندوق ولري پرځای خبره ده كه چيرې افغانستان ودان وي، ددې هيواد لارې او سركونه جوړوي، امنيت تامين وي ټولو هيوادونو ته يې ګټه رسيږي د بيلګې په ډول هغه پايت لاين چې له تركمنستان څخه د افغانستان له لارې پاكستان ته غزيږي ډيرو هيوادونو ته يې ګټه رسيږي چې دامستقيماً د افغانستان په امنيت پورې اړه لري دغه راز د افغانستان ترانزيستي لارې د منځني آسيا هيوادونو، ايران، او پاكستان ته زيات اهميت لري د سيمې سوداګري او تجارت به لاوده وكړي نو ځكه دايكو سازمان برسيره پردې چې د خپلو مرستو په وركولو سره افغانستان ته ګټه رسوي خپلو هيوادونو ته هم ګټه رسوي. موږ هيله لرو چې ټولې هغه وعدې چې د افغانستان د بيا جوړولو لپاره د نړيوالو ټولنو له لورې شوي د عمل جامه واغوندي او زموږ هيواد چې په آبادۍ كې يې نړيوالي ګټې هم نغښتې بيا ودان شي.

شفيق

د سرې میاشت د اونۍ په مناسبت

د بې وزلو لاس نیوی پکار دی

تيره اوونۍ زموږ په هيواد كې دسرې مياشتې ځانګړي اوونۍ ولمانځل شوه په همدې اړه د محترم حامد كرزي پيغام د اسلامي انتقالي دولت د مرستيال محترم كريم خليلي له خوا د راديو او تلويزيون له لارې واورول شو. دغه راز د سرې مياشتې د غونډو تالار په همدې مناسبت وروسته له بيا جوړونې پرانيستل شو او د سرې مياشتې د ځانګړي اوونۍ په مناسبت د تلې د مياشتې په درويشتمه نيټه د سرې مياشتې د غونډو په تالار ې يوه مشاعره جوړه شوه، دغه راز د سرې مياشتې د ځانګړي اوونۍ په مناسبت د هيواد په مركز او ولايتونو كې بيلابيلې غونډې جوړې او د سرې مياشتې د خدمتونو په اړه څرګندونې وشوې.

سره مياشت په افغانستان كې هغه ټولنه ده چې د خوارانو او بيوزلو سره دمرستې ترڅنګ زموږ مصيبت ځپلو هيوادوالو سره هم مرستې كوي دغه راز په بيلابيلو ځايونو كې د دارلايتامونو او مرستونونو په درلودو سره د هيواد دبچيانو پالنه كوي. دسرې مياشتې د عالي ټولنې د لوې رئيس په وينا چې يو شمير هيوادونو او نړيوال سره صليب تراوسه پورې له دغې ټولنې سره يو لړ مرستې كړي دغه راز د لاترې ټكټ له لارې هم دې ټولنې بې وزلو سره د مرستې لپاره پانګه ټوله كړې. خو هغه څه چې د پام وړ دی ددې ټولنې دمالي امكاناتو لږ والی دی. څرنګه چې ليدل كيږي لا ډير يتمان ددې ټولنې تر پوښښ لاندې نه دي راغلي او په ښارونو كې د سوالګرو ډيروالی دا جوتوي چې دغې ټولنې لاپه دې هكله كوم دپام وړ كار سرته نه دی رسولی، برسيره پردې د خلكو له لورې يو شمير شكايتونه هم شته چې وايي: دسرې مياشتې د ټولنې مرستې مستحقو او اړو كسانو ته نه رسيږي او د مرستو دويش په كار كې هم واسطه او پيژندګلوي ديره اغيزه لري. ضروري ده چې داستره خيريه ټولنه خپل كارونه لا جوت كړي او خپل د مرستو بهير لا چټك كړی.

په همدې توګه د نوموړي ټولنې چارواكي بايد لا ډير له نړيوالو خيريه ټولنو او د نړۍ له هيوادونو سره په تماس كې شي او د مرستو بهير راجلب كړي. بې له شكه زموږ د هيواد ډير خلك بې وزلي دي او په تيره بيا جګړو ډير يتيمان، كونډې او معيوبين پرځای پرې ايښي چې د بيوزلو او جګړه ځپلو لاس نيوی د همدې ټولنې كاردی چې لا ډيره پاملرنه بايد ورته وكړي.

حقپال

بنیاد گرایی بازهم از پاکستان هوشدار میدهد

نتیجه انتخابات در پاکستان با انکه از سوی آحزاب آنکشور غیر واقعی خوانده شده و جتی حکومت آنکشور راه اندازی دوباره و تجدید نظر بر شمارش آرا را در عده یی ازمراکز انتخاباتی دستور داده است نه تنها اداره دو صوبه هم مرز با کشور مان (صوبه سرحد و صوبه بلوچستان) به گروه های مذهبی آنکشور که برای اولین بار در تاریخ پاکستان متحده شده و اتحادی را بنام (متحده مجلس عمل) تشکیل داده اند سپرده است بلکه این زمینه را هم مساعدت ساخته تا اتحاد تلاش کند که به منصب صدارت اعظمی پاکستان هم دست یابد، برای این پست آقای مولانا فضل الرحمن رهبر جمعیت علمای اسلام پاکستان نامزد شده است. با آنکه نتیجه نهایی و سرنوشت صدارت پاکستان تا حال واضح نیست اما بهر صورتی دو صوبه با اهمیت پاکستان در اختیار گروه های قرار خواهد داشت که همیشه برای همسایگان کشور شان دردسر های را ایجاد کرده اند، اشتراک مستقیم اعضای این گروه ها در درگیری های کشمیر برای هندوستان، داشتن مناسبات عمیق و بذل کمک های مادی به مسلمانان سنکیانگ برای کشور چین، حمایت مستقیم از طالبان و اشتراک عملی رهبران و اعضای این گروهها در جنگ های داخلی افغانستان برای این کشور، ایجاد، تقویت و گسترش فعالیت احزاب ال[illegible]ر وخلافت توسط این گروه ها [illegible] کشور های آسیای میانه بخصوص تاجکستان و ازبکستان و در نهایت عکس العمل ها و مخالفت های این نیروها در برابر عملیات نظامی ائتلاف بین المللی و در رأس امریکا و دست داشتن اعضای این گروه ها در اکثر حملات تروریستی و خرابکارانه در سطح جهان، برای زنده گی صلح آمیزقابل اندیشه است.

علاوتاً این "پیروزی بزرگ!" تنظیم های که تا اکنون بخصوص طی سه دهه اخیر افزون از دو، سه کرسی ای در پارلمان کشور پاکستان نداشته اند و ارتباطات خاص ایشان با سازمان استخباراتی آنکشور با آنکه رهبران آن تعهد می سپارند که نظامی چون نظام طالبان افغانستان را در کشور خویش مسلط نمی سازند نه تنها اکثریت اتباع ترقی خواه و صلحجو پاکستان بلکه احزاب سیاسی آنکشور راهم مشوش ساخته است بخصوص بعد از آنکه رهبران این اتحاد اعلام داشتند که با حضور نظامی امریکا در کشور شان مخالف اند و ادامه ریاست آقای مشرف را بر اردوی آنکشور نمی پذیرند همچنان اشارات ضمنی رهبران (متحده مجلس عمل) در رابطه باکشور همسایه افغانستان و رهبری آن یکبار دیگر برای ملت پاکستان هوشدار می‌دهد که بازهم فرزندان شان به میدانهای جنگ کشانیده خواهدشد تا خون بیگناهانی را بریزند، و یا خود در گورستان های گمنامی بخوابند.

اظهارات عاقبت نه اندیشانه چهره های اشنا برای مردم افغانستان چون قاضی حسین احمد، مولانا فضل الرحمن و دیگران که به هیچ صورتی دست کمی از رهبری طالبان و نیروی های تروریستی در ویرانی و به آتش نشانی کشور ما نداشته اند در رابطه به اینکه حاکمیت فعلی در افغانستان از مردم آنکشور نماینده گی کرده نمی تواند و به کمک نیروهای نظامی خارجی بر مردم افغانستان مسلط ساخته شده است و آنها نمی توانند در این مورد بیتفاوت باقی بمانند یکبار دیگر خیالات مداخله گرانه زمامداران پاکستان را در امور داخلی کشور ما آشکار ساخته و هوشدار می دهد که آنانیرا که ما درس انسانیت و اسلامیت داده به دین اسلام مشرف ساخته ایم حال دارند یکبار دیگر به رنج ها و مصایب مان می افزایند.

شرایط کنونی و اظهارات آنانیکه تکیه زدن بر کرسی های اقتدار راخواب می بینند ملت مظلوم ما را به امتحان دشوار دیگری می طلبد، اینبار سیاست های استخباراتی منطقوی نبود کشور واحد مانرامطرح ساخته است.

نباید بیش از ین دست روی دست گذاشت ومهر خاموشی بخاطر کسب رضای این و آن برلب گذاشت. وحدت ملی ما اقوام ساکن درافغانستان مشت کوبنده ئی خواهد بود بردهان هرزه گویانی که دستان شان تاشانه درخون ملت ما رنگ است.

صدای اعتراض ما در برابر این مداخلات بی شرمانه می تواند گریبان جامعه ملل را گرفته آنرا تکان بدهد که برادر اینست چهره های اصلی تروریزم، اینها اند مهره های اصلی و اساسی سازمانهای که شما در پی آنان آبادی ها و ویرانه های ما را هدف قرار داده اید.

صلاح الدین

"ایزم" او د هیواد بربادي

ښه مې ياد شي چې يوه ورځ په يوه غونډه کې يو مشر دا خبره وکړه چې زموږ وطن ايزم تباه کړو. د ښوونې او روزنې د هغه مشر مقصد داؤ چې کمونيزم، تروريزم او انجو ئيزم دا زموږ خوار وطن لا خراب کړو.

د هغه مشر خبره بالکل رښتيا ده د کمونيزم د پلويانو له بري څخه راوروسته زموږ د وطن بربادي پيل شوي او ان چې لا تر اوسه پورې دوام لري او اوس چې په هېواد کې دکمونيزم او تروېزم کمپله ورټوله شوي ده اوس بل غضب دادی چې دانجوئيزم په پنجو کې ښکيل شوي يو بس هر څوك دانجو د جوړولو لپاره په هڅو کې دي او هر چاته د انجو د جوړولو امرونه ورکول کيږي او انجوګانې له بهرنيو موسسو څخه پروژې ترلاسه کوي په لومړي ځل چيرې يو کرايي کور د دفتر لپاره ونيسي او د پروژې لپاره په کرايي ګاډو کې مواد ليږدوي خو چې کال دوه تيريږي د انجو رئيس صاحب د شخصي ګاډي څښتن شي، کرايي کور په شخصي کور بدل شي د دفتر لپاره شخصي کورونه ونيول شي. او ټول ښه پرې خبر وي چې دغو انجوګانو او موسسو په غريبو او بې وزلو خلکو د کرايي کورونو د نيولو ساحه هم تنګه کړه دا ځکه چې هرې موسسې او هرې انجو زموږ د خلکو په سرسودا ګري پيل کړيده بهرني موسسات د خپلو عمراني کارونو او انجوګانو ته د پروژو د ورکولو ترڅنګ خپل څيړنيز کارونه پرمخ وړي دانجوګانو له کارونو څخه څارنه نه کوي او که يې کوي هغه هم سرسري وي. انجوګانې خپل کارونه پداسې ډول پرمخ وړي چې ډيره ګټه په کې پاتې شي او په لږه موده کې د شتو خاوند شي او کومو انجوګانو چې هر چيرې که يې ښوونځي جوړ کړي بيرته خراب شوي، که پلونه او بندونه يې جوړ کړي هغه بيرته خراب شوي او که يې ځاګانې کيندلي هغه بيرته ورانې او وچې شوي دي او بده لادا ده چې د انجو د پروژې د ختميدو صورت کې چې کله د موسسې له خوا داخلي څارونکي هيئت راشي د انجو د مشر له خوا هغوی ته يوڅه په ګوتو کې ورکړل شي.

د کليو د پراختيا رياستونه، دبرښنا او اوبو رياستونه. د عامې روغتيا رياستونه د زراعت او مالداری رياستونه اوداسې ډير دواخله آيا دوی داکارونه نشي کولای، آيا دوی فني او مسلکي انجينران نه لري؟

موږ په هر اړوند رياست او دولتي اداره کې زيات فني او مسلکي کسان لرو چې ټول وزګار دي او کارونه يې نشته د مرکز او ولايتونو مشران ولې په دې هکله اقدام نه کوي؟ که چيرې خارجي موسسې مرسته کوي د څه مقصد لپاره زموږ اړونده رياستونو او پروژو ته يې نه ورکوي؟ دا خبره هم روښانه ده بهرني موسسات راپورونه لري که چيرې دا پروژې دولتي رياستونو ته وسپارل شي هغوی يې سرته نه رسوي خپله يې خوري. ددې خبرې په ځواب کې تر اوسه پورې په اخبارو او ورځپاڼو کې همدا خبرې ليکل کيږي چې دولت بايد ان تر رياستونو پورې داسې تغير اوتبديل شروع کړي چې د يوه ولايت چې اداري کارکوونکي دې بل ولايت ته لاړشي او پدې برخه کې دې دولت جدي څارنه وکړي او د هرې پروژې د کار او اجرا‌تو راپور دې واخلي او د خرابيدو په صورت کې دې پلټنه وشي.

زه چې د کومې انجو د جوړلو نوم واورم او يادا چې فلانی انجو ته په فلانې سيمه کې پروژه ورکړل شوه نو زموږ د اړوندو رياستونو برحال وزګار انجينران او مسلکي کسان راته په مخکې ودريږي او بيا د انجوګانو هغه بيرته وران شوي کارونه او پروژې راته په مخکې ودريږي او بيا داغزل را ياد شي چې:

"غل دی ياره، دنيا کې هر يو
سړی غل دی"

سهراب ديدار

مشکلاتی که توجه جدی میطلبد

وزارت صحت عامه:

از مدت چند ماه بدین سوٴ کار کلوریشن چاه های آب آشامیدنی منازل مسکونی شهر کابل از طرف وزارت صحت عامه به همکاری موسسات بین المللی آغاز گردیده و صدها تن به منظور کلوریشن چاه ها در نواحی شهر توظیف گردیده اند. که در بدل مزد روزانه مقداری گندم اخذ می نمایند.

واین در حالیست که در چاه آب وجود ندارد ولی کارکلوریشن تا حال در شهر کابل ادامه دارد. معلوم نیست که افراد یادشده کدام چاه ها را کلوریشن می کنند چاه های بی آب را یا آب دار را؟

آیا وزارت صحت عامه نمی تواند که پروژه دیگری را به عوض پروژه یاد شده رویدست گیرد که نفع همه مردم در آن مضمر باشد؟

شاروالي کابل:

تاجای که دیده می شود در گوشه و کنار شهر کثافات انبار گردیده است. با آنکه شاروالی کابل از مالکین منازل رهایشی سالانه محصول صفائی اخذ میدارد ولی معلوم نیست که پول را که همشهریان بنام محصول صفائی تحویل میدارند، در کدام پروژه به مصرف می رسد.

ترافیک کابل:

ترافیک کابل ازطرف صبح شهریان را از جاده های عمومی به پیاده روها رهنمائی می کند که این کاریست ارزنده ولی این عمل ترافیک فقط برای چند دقیقه و یا یک ساعت است بعد از آن پرسونل ترافیک مصروف گشت وگذار در شهر بوده که گوئی گزمه شهری هستند و رهنمائی همشهریان به پیاده روها را فراموش کرده دنبال کراچی ران ها ودست فروشان می افتند اگر ترافیک قانون را در جاده ها شهر تطبیق می کنند پس باید بالای همه یک سان قانون تطبیق شود، و نباید یک فروشنده را اجازه فروش بدهند و دیگری را اذیت نمایند.

بناءً ترافیک در همکاری با شاروالی کابل جای مناسبی را برای دست فروشان تعیین نمایند تا از یک طرف کنار جاده های عمومی ازدحام نباشد و از سوی دیگر دست فروشان اذیت نگردند.

حسیب

کار بازسازی مکاتب شهر کابل به کجا رسیده است

علی الرغم آنکه بازسازی معارف در سرخط وظایف دولت انتقالی اسلامی افغانستان قرار گرفته است و محترم محمد یونس قانونی وزیر معارف با ارایه طرح پیشنهادی اش مبنی بر جلب کمک های اشخاص خیر خواه و معارف دوست و موسسات امداد گر بین المللی، هنوز هم نشانه های روشن و ملموس از بازسازی در مکاتب به نظر نمی رسد.

که به گونه مثال یکی از آن مکاتب مکتب متوسطه چارقلعه وزیر آباد است که از جمله مکاتب پرنفوس شهر کابل به حساب میرود شاگردان این متوسطه بدون میز و چوکی در بین موتر های کهنه ملی بس درس میخوانند و تا اکنون به جز از مقدار کمی قرطاسیه کمکهای دیگری با این مکتب صورت نگرفته است.

براساس یک گزارش لیسه ذکور بینی حصار نیز طی ۲۰ سال جنگ از یک حویلی به حویلی دیگر نقل مکان می کند و از هر گونه امکانات درسی محروم شده است. شاگردان این لیسه در زیر اتاقهای فرو پاشیده و بدون سقف درس میخوانند.

مدیر لیسه ذکور بینی حصار با ابراز مشکلات بی حد و حصر این لیسه گفت: اداره یونیسف چند باب خیمه را با ما مساعدت نموده و یک اندازه سامان ضروری قرطاسیه والبسه را موسسه هیکل مساعدت کرده است دیگر هیچگونه کمکی از سوی موسسات داخلی و خارجی در یافت نکرده ایم این همه در حالیست که کنفرانس تاثیر کمک های عمرانی بر افغانستان بر سر احداث و احیای مکاتب به ویژه مکاتب دخترانه تاکید ورزیده است.

نوری



ښار په تیره اوونۍ کې

د تلې ۲۴:

په ملالۍ زیږنتون کې څلور ماشومان وزیږیدل چې څلور واړو یې ناقصه بڼې لرلې له دې جملې څخه یو ماشوم سر نه درلود او دویم ماشوم د خپل سر تر شا یوه عضلي کتله لري د دریم ماشوم ګیډه له مایعاتو څخه ډکه ده او دڅلوم ماشوم د ملا تیر په بشپړه توګه غیر منظم دی.

د یوه مسوول خبرځای د خبر له مخې ناوړې بڼې بیلابیلې انګیزې او علتونه لري چې له دې جملې څخه کولي شو په خپل سر د امیدواری په بهیر کې د میندو له خوا د درملو څخه د استفادې یادونه وکړو.

د تلې ۲۴:

په سلګونو کیلوګرامه ډول ډول مخدره مواد د کابل په ښار کې وسوځول شول.

په دغو موادو کې یو زرو اووه سوه دولس کیلو ګرامه چرس، یوسلو دری څلویښت کیلو ګرامه تریاك او یو سلو شپږاتیا کیلو ګرامه هیروئین دی.

د تلې ۲۵:

د امریکا دګډو کاري مسلکي او پوځي ځواکونو اتحادیې د کرنې او مالداری له وزارت سره د پنځو لاریو موټرونو مرسته وکړه ددغو موټرونو سندونه ددغې اتحادیې د مسوول لخوا د کرنې او مالداری وزیر محترم سیدحسین انوري ته وسپارل شول.

د تلې ۲۵:

دیونیسف موسسې د قره باغ ولسوالی په مربوطاتو کې په زرو مستحقو او اړو کورنیو باندې یوه اندازه ژمنې جامې چې جمپرونه، بوټان او خیمې پکې وي وویشلې.

دتلې ۲۵:

د فاضل بیك د ښوونځي دالخاقیه ودانۍ د جوړولو کار بشپړ اود استفادې وړ وګرځید.

دغه ودانۍ چې د لوست شپږ خونې لري د امریکا د ماشوم د ساتنې دخیریه موسسې په مالي همکاری جوړه او پرانیستل سوه.

د تلې۲٦:

د کابل په ښار کې د تنظیمي کارونو په دوام د کابل ښاروالي د منسوبینو لخوا دلسمې او څلورمې ناحیې په مربوطاتو کې د سیمو د پاکولو کار وشو.

د حشر په دې کار کې یو زیاته اندازه کثافات راټول او له ښار څخه بهر ولیږدول شول.

د تلې ۲۷:

دوه تنه شهیدان او لږ تر لږه څلویښت تنه نور هغه وخت د پغمان په ولسوالی د مرغ ګیرانو په کلي کې ټپیان شول چې د واده په مراسموکې دوه لاسي بمونه وغورځول شول.

د تلې ۲۷:

د لومړنیو روغتیایي مرستو یو کلینك د کابل ولایت شکردرې په ولسوالی کې پرانیستل شو.

د تلې ۲۷:

د کورنیو چارو وزیر تاج محمد وردګ د انترپول په کنفرانس کې د ګډون لپاره له کابل څخه د کامرون په نیت روان شو

اراده

روغتیا د ټولو لپاره

وطن بالای ما حق دارد

دوکتورس شکریه عضو اتحادیه رضاکاران افغان در آلمان به مصرف شخصی خود و به همکاری یکی از موسسات آلمانی جهت خدمت و سهم در بازسازی کشور به کابل آمده است و هم اکنون در شفاخانهٔ رابعهٔ بلخی مصروف خدمت به مریضان داخل بستر و بازسازی کودکستان این شفاخانه می باشد. زمانیکه از دوکتوران و پرسونل خدماتی این شفاخانه در مورد شکریه پرسیدم همه گفتند که این زن خدمات زیادی را انجام داده است ازصبح تا عصر بدون اینکه رفع خستگی نماید در بخش های مختلف کاری شفاخانه سهم میگیرد ازمصرف شخصی خود برای شفاخانه ما شیشه، قالین، ادویه، وغیره ضروریات را خریداری نموده است محترم دوکتورس اوریاخیل رئیس شفاخانه رابعهٔ بلخی در مورد وی میگوید: که من برایش گفتم تا یک موبایل جهت تماس با دوستان خریداری نماید، داکتر شکریه در پاسخ میگوید که بجای موبایل چرا باید به شفاخانه چیزی نخرم، محترمه اوریاخیل علاوه نموده هرچیزیکه برای شفاخانه کارشود صدای ما بالای خانم شکریه است. زمانیکه با دوکتورس شکریه جهت مصاحبه رفتم زن نهایت دلسوز، مهربان وحلیم به نظر می رسید از سیمایش احساس وطندوستی ظاهربود. وی گفت: ما یک اتحادیه کوچک در آلمان داریم و بطور داو طلبانه جهت خدمت به هموطنانم گاه گاهی می آیم. وی گفت من تحصیلاتم را در رشته طب در کابل به انجام رسانیده و فعلاً میخواهم در این رشته نیز به هموطنانم خدمت نمایم دوکتورس شکریه میگوید که اتحادیهٔ ما در ایجاد یک مکتب در ولایت غزنی و یک مکتب در ولایت وردگ نیز سهم گرفته است. شیشه های تمام شفاخانه های شهر کابل از طریق ما اکمال گردیده است و با چندین کودکستان کمک نموده ایم. در قسمت تداوی و معالجه در نظر دارم با دوکتوران کشور صحبت نمایم و همچنان با مسولین صحت عامه در تماس شوم تا یکتعداد از مریضان خود را بجای اینکه در بیرون از کشور مخصوصاً در پاکستان تدوای نمایم در کابل تداوی شوند. امکانات آن موجود است و فقط یک سازماندهی میخواهد.

محترمه شکریه ازسایر هموطنان متخصص ما در خارج از کشور مطالبه نمود تا در این موقع حساس که وطن ما به بازسازی و وجود متخصصین خودی ضرورت دارد به وطن آمده و مصدر خدمت به هموطنان بیچاره خود گردند. وی از حالت فعلی کشور خصوصاً در بخش صحت عامه بسیار متأثر بود امکانات و

حالت شفاخانه های را که مریضان در آن تداوی میشوند ابتدای خواند. وی گفت وطن بالای ما حق دارد ما در این کشور به خون مردم تحصیل نمودیم بناءً باید در خدمت به آن از هیچ نوع همکاری دریغ ننماییم، متخصیصین خارجی با اجوره بلند کار مینمایند و تمامی پولهای که توسط کشور های کمک کننده داده میشود به مسایل اداری و معاشات پرسونل به مصرف میرسد در حالیکه ما متخصیصین خوب افغان در بخش های مختلف داریم آنها اگر برای دایم نمی توانند به وطن بیایند حداقل میتوانند وقفه به وقفه به کشور رفت وآمد نموده و در عرصه های مختلف مصدر خدمت گردند. مادر حالیکه برای محترمه دوکتورس شکریه توفیق بیشتر در کارهایشان از دربار خداوند(ج) میخواهیم. از تمام هموطنان خود در خارج از کشور تقاضا مینماییم تا همچو دوکتورس شکریه بااحساس عالی عمل نمایند. زیرا وی میگوید من لذت را که در کار و خدمت به هموطنانم احساس مینمایم در بیرون از کشور در هیچ موقعی احساس ننموده ام.

ش.ح

ذکام

Common Cold

اوس چې دمني موسم او هوا مخ په سړيدو ده او خصوصاً په دې ورځو کې چې بادونه، دوړې او د وچکالۍ له امله وچ موسم دی نو اکثراً دتنفسي سیستم ناروغی زیاتی پیښيږي ځکه چې له ګردونو سره اکثره وایروسونه او باکتریاوې موجودې وي، پزې او ستونې ته ننوځي او هلته ځای نیسي چېږددې ساحې د التهاب، سبب ګرځي په لومړی مرحله کې ناروغ ته سردردي، د پزې بندش، د پزې څخه د اوبړنو موادو راتلل، پرنجي، دستونې تخریش اوعمومي کسالت موجود وي. که چیرې د ناروغ په وخت درملنه ونه شي نو بیا باکتریاوي مداخله کوي چې او بالاخره دسږو د التهاب سبب ګرځي، په داسې حالاتو کې ناروغ ته ډير تکلیف او هم په تداوي کې مشکلات پیدا کیږي.

اهتمامات:

لدې کبله چې دا ناروغی په اسانی سره د تماس او پرنجې پواسطه مقابل ته انتقالیږي نو لازمه ده چې ناروغ تجرید شي له دودو او لوګي څخه ځان وساتي، سګرټ ونه څکوي له مخر شو موادو لکه مرچ، مساله او نورو څخه پرهیز وکړي. په مقابل کې باید زیات مایعات استعمال او استراحت وکړي او هم ددې لپاره چې د ناروغی له اختلاطاتو څخه جلوګیري شوي وي باید زر تر زره راجستر شوی ډاکتر ته د تداوی لپاره مراجعه وکړی.

پیچش امیبی

AMOEBIASIS

امیبیازس یک مریضی انتقالی امعای غلیطه، کبد و دیگر انساج عضویت میباشد که توسط پرازیت پروتوزوای اینتامویسبا هستولایتکا به میان میاید که در حالات عادی سبب اسهال و دردهای کرمپ مانند بطن میشود، بعضی اوقات با قبضیت مترادف بوده و در مواد غایطه مخاط موجود میباشد ولی خون موجود نمی باشد. در التهاب پیشرفته کولون مواد غایطه متمائیل به مایع و مملواز خون و مخاط بوده تب و درد بطن موجود میباشد که بالاخره سبب ریچر امعا و خونریزی میشود.

در امیبیا ز کبدی کلان شدن کبد بادرد و تب مترادف میباشد.

در معاینات لابراتواری درمواد غایطه امیب به ملاحظه میرسد وتیست سیرو لوترلک مثبت میباشد.

اهتمامات:

برای اینکه این مریضی بسیار وخیم و اکثراً خصوصاً در اطفال سبب مرگ میشود باید در وقایهٔ آن توجه جدی صورت گرفته شود، سبزیجات و دیگر خوراکه باب که خام خورده میشود باید قبل ازخوردن توسط پتاشیم پرمنگنات و یا محلول نمک پاک شسته شود و هم باید بعد از عمل تفوط دست ها با آب و صابون شسته شود، مگس که سبب انتقال مرض میشود باید در محوآن کوشیده شود و اتاق نشیمن و آشپزخانه جالی گرفته شود.

داکتر غروال

توره ټوخله

توره ټوخله یوه مکروبې او خطرناکه ناروغی ده چې په ماشومانو کې لیدل کیږي.

لومړی ځل "توماس ویلیس" په ۱۶۷۳م کال او وروسته "سیدن هام" په ۱۳۸۹م کال کې توره ټوخله و پیژندله او هغه یې له ګرپ او نورو ورته ناروغیو څخه جدا کړه دتورې ټوخلې مکروپ په ۱۹۱۶م کال کې کشف شو.

دغه ناروغی په ۲_۵ کلنو ماشومانو کې لیدل کیږي او په نجونو کې د هلکانو په پرتله زیاته وي.

دغه ناروغی په معتدلو او یخو سیمو کې لیدل کیږي او د ژمي په وروستیو وختو کې زیاته وي ددغې ناروغی سبب هغه مکروب دی چې د ناروغ په خوله، ستونې او د تنفس په ساحه کې ژوند کوي او د ټوخې په واسطه خپریږي.

بختیار

ACKU

هېواد ته راستانه شوي هېوادوال او ستونزې يې

په هېواد کې د نويو تحولاتو په راتګ سره د نړۍ له ګوټ ګوټ په تيره بيا له ګاونډيو هېوادونو ايران او پاکستان څخه زموږ د مهاجرو هېوادوالو بهير رامات شو او د هرې ورځې په تيريدو سره د راستنيدونکو وطنوالو په شمير کې زياتوالی راغی، په راستنيدونکو وطنوالو کې زياتې داسې کورنۍ هم شته چې ايله يې ځانونه د هېواد غيږې ته را ورسول او د خپل ورځني ژوند د پرمخ بيولو په اړه يې خپله ټوله تکيه د نړيوالو مرستندويه ټولنو او کورنيو انجوګانو په مالي او اقتصادي مرستو کړې ده.

خو څرنګه چې ليدل کيږي زموږ راستانه شوي هېوادوال پخپل کور او خپل وطن کې د ملنګۍ او محتاجۍ ژوند تيروي، زياتره خوېې ياد استوګنې کورونه، نه لري او که لري يې هم هغه په کنډواله بدل شوې او داستوګنې وړ نه دي، نو اوس يا ترشنه آسمان لاندې په خړ داګ پراته دي او يا پخپلو کنډواله شوو کورونو کې دکورونو د بيا ودانولو په هيله لاس تر زنې ناست دي، په داسې حال کې چې د مني ساړه بادونه د هغوی د صحت اوسلامت لپاره يو ستر ګواښ دی مجبور دی چې هم د خپلو ګېډو لپاره لاس او پښې ووهي او هم د سرپناه په فکر کې و اوسي.

د کورونو د نشتوالي دغه مشکل د هيواد په ښارونو کې زيات ليدل کيږي په تير بيا د کابل په تاريخي ښار کې خو دومره زياته ګڼه ګوڼه جوړه شوې ده چې لارويان په مشکله کولای شي دښار په واټونو کې يوې اوبلې غاړې ته تير شي چې په ښارونو په تيره بيا کابل کې د نفوسو دغه بې اندوله زياتوالی يوبل مشکل دی چې زموږ خلك ورسره مخامخ دي نو آيا څنګه کولای شو چې هم په ښارونو په تيره بيا کابل کې د خلکو دغه مشکل ته ځواب ووايو او هم دهېواد په اطرافي سيمو يعنې کليو او بانډو کې ددوی لپاره د استوګنې اسانتياوې برابرې کړو.

زموږ په فکر دغه مشکل ته هغه وخت ځواب ويل کيدای شي چې دولتي چارواکي او مرستندويه ټولنې دهېواد په ګوټ ګوټ کې د ژوند پر ټولو اړخونو فکر وکړي. د ښوونې او روزنې له امکاناتو څخه نيولې د هغوی د روغتيايي، ترانسپورتي آسانتياو او کاروباري مصروفيتونو اونورو اړونده ستونزو له منځه وړلو په اړه رغنده پروګرامونه تر لاس لاندې ونيسي تر څو ورو ورو ددې زمينه برابره شي چې زموږ خلك د هېواد دښارونو پرځای کليوالي سيمو ته مخه وکړي او په دې توګه هېواد شموله بيا وداني اوبيا رغاونه په برابره او مساوي توګه پرمخ ولاړه شي چې په هغه صورت کې به موږ د يو هوسا او بسيا ژوند خاوندان شو.

م: عارف غروال

ستونزې "مشکلاتونه؟..."

خبرې هر څوك کوي او دنړۍ په خورا پراخه غيږکې بې شميره ژبې شته چې ويوونکي يې پرې ګړيږي، خوښې خبرې هغه دې چې سمې وويل شي.

هره ژبه ځانته قاعده او دستور لري او په هره ژبه او لغت کې مفرد او جمع، مذکر او مونث رواج لري، په عربي ژبه کې خولا تثنيه او مخنث هم شته.

کله چې موږ غږيږو بايد د خپلې ژبې دستور اوګرامر، قاعده او اصول مراعات کړو، که نه نو يا زموږ په بيسوادۍ او ناپوهۍ دلالت کوي او يا هم داسې ښکاري چې ګواکې خبرې کوونکي به ددې ژبې اهل نه وي.

د ناسمو اصطلاحاتو او متلونو استعمال هم د ويونکي د پوهې او سواد په معيار دلالت کوي.

په دې برخه کې به له هغه چانه ډيره ګيله نه کوو او د ملنډو وړ به نه وي چې لوست او تعليم نه لري پاتې شوي او د ژبې له اصولو او ګرامر نه بې خبره وي.

خو که د يوه هېواد لوړ رتبه سړی غلط وغږيږي او د ژبې د ګرامر په خلاف اصطلاحات او لغات استعمال کړي د ډير تاسف ځای به وي.

زموږ د نظر غشي په هر چا لګيږي او د هر چا عمل او خبروته متوجه دي. داخل مو د نظر د عمل په ځای زموږ د دولتي ادارو د يو مسوول په مرکه ولګيد چې څو شپې مخکې د افغانستان د تلويزيون له لارې خپروه شوه.

په دې مرکه کې د نورو لفظي ناسمو اصطلاحاتو په لړ کې د "مشکلاتونو" اصطلاح دپام وړ وه.

البته د څرګندونې وړ به نه وي چې ووايو په عربي ژبه کې مشکل مفرد او مشکلات جمع راځي. ياشخص مفرد اواشخاص جمع دی

په عربي ژبه کې ځينې خاص لغات شته چې دوهم ځل جمع کول يې معمول دی لکه مصرف، مصارف، مصارفات، امر، امور او امورات اوداسې نور. خو هغه څه چې د معمول په خلاف استعمال شي د مخاطب پام واړوي او ګوت څنډنه يې کوي.

له بده مرغه په را وروستيو کلوکې د ډيرو عواملو له امله د پښتو ژبې اصول او ګرامر يا هيرشوي او يا څوك ورته پام نه کوي، په ځای ددې چې وويل شي: دا خبره مې هيره شوه، ويل کيږي له هيره مې ووتله... او دې ته ورته مثالونه.

ددې ليکنې څخه زموږ منظور دانه دی چې د چا په خوله پورې وخاندو او په خبرو يې نيوکې وکړو. اصلي موضوع داده چې سم وغږيږو، سمې او درستې کلمې وکارو او په خبرو او ليکنو کې د ژبې ګرامر او دستور ته پاملرنه وکړو.

په ليکنه کې سمه املاء او انشاء او په تقرير کې د سمو الفاظو او کلمو استعمال يو ضرورت دے.

په راديو از تلويزيون کې د يوه نطاق په وسيله د لغتونو او اصطلاحاتو تلفظ ته بايد دقت وشي. د نطاقانو په وسيله د يوې کلمې او لغت سم تلفظ په اوريدونکو او ليدونکو اغيزه کوي او هغوی هم د زياترو اصطلاحاتو، لغتونو او کلمو سم تلفظ زده کوي. ژبه په هره ټولنه کې د بيلابيلو خلکو ستره فرهنګي او معنوي پانګه ده.

ژبه د افهام او تفهيم وسيله ده چې لوی خدای (ج) د انسانانو په برخه کړيده.

ددې وسيلې څخه بايد سمه استفاده وشي، د بې مورده، بې ځايه او ناسمو اصطلاحاتو او کلماتو له ويلو نه بايد ډډه وشي، په تيره بيا زموږ سواد لرونکي خلك او د دولتي ادارو مسوولين، دې مسالې ته بايدډيره پاملرنه وکړي چې خدای ناخواسته څوك پرې ونه خاندې اوونه وايي چې پلانکی غټ دولتي موقف لري خو دسوادنه بې برخې دي، دابه ددوی مقام اوموقف ته لوی زيان وي.

عبدالحی راسخ

کوه هندوکش ...

هرچند که این روزها حرکتی از برای مرمت سرک های داغدیده سالنگ، در قسمت دهانهٔ تونل سالنگ شمالی آغاز شده است و کار گران حفظ و مراقبت شاهراه تحت شرایط بسیار دشوار ناشی از از برودت و هوای یکسره آلوده با دو دوگاز تقلا دارند با بیل کلنگ و زنبیل حفره های‌آب تاکمر داخل را سنگ پارچه کاری کنند، اما واقعیت اینست که زخم های آنچنانی را، تدبیری این چنینی نمی تواند چاره گر باشد، اگر "پرنمودن حوضی گاهی باکوزه" ممکن باشد، پس مساعی جاری در داخل تونل از برای داغ گیری ومرمت نیز یقینی خواهد بود. علماً بدون توجه جدی و بدون وسایل و وسایط ماشیزی، مرمت آنهمه خرابی ها، کمتر ممکن است مخصوصاً که فصلی از بارنده گی و یخبندان از راه رسیدنی است، در حالیکه تونل حتی ابتدایی ترین امکانات را که موجودیت برق و سیستم تشخیص و تهویه است در خود ندارد، بگذریم از ادعای اتاق های نجات در مواقع بروز گازی شدن تونل و یاسیستم تلفون و نل های آب، که تونل در گذشته همه این تدابیر رادرخود داشت. بازتنها تونل مشکل ندارد، بلکه در دوسوی سالنگ ها، پل های موقتی که در زمستان لغزنده میشوند - نقاطی از سرک که به اثر سرازیر شدن سیلاب ها و عوامل ناشی از جنگ تخریب شده اند وهم موجودیت کشتزار های ماین در کناره های راست سرک، حتی متصل به سرک از خنجان به بالا - در امتداد ساحات چندران، پل فرشتگان وگولای چارمغزک، عبور و مرور را در زمستان که ماین ها به اثر بارنده گی از ته خاک بیرون و به حرکت خواهند افتاد، باخطراتی روبه رو خواهد ساخت. باوجودیکه عملیه جمع آوری ماین از سوی موسسات پاکسازی ماین از جمله موسسه هلوترست در جریات است با آنهم این حرکت در مقابل آنهمه مزارع موجود ماین، مبارزه جاری در مقابل این دشمن خفته در خاک را تا حدود زیادی ضعیف جلوه میدهد.

در یک نتیجه گیری کلی از آنچه گفته آمدیم بر می آید که شاهراه سالنگ توجه جدی می طلبد و یک چالش بزرگ برای زمستان پیشرو ودر مقابل اداره انف نی است. ببینیم مسوولین این اداره در راستای ادعای خدمت به مردم و رفاه عامه تا چه حدودی جدی اند.

غلام غوث

کمیسون تسوید قانون اساسي...

کشور ما یک کشور اسلامی بوده و تمامی قوانین آن باید در مطابقت با قوانین و احکام اسلامی تدوین گردد که منافع ملی و حقوق مردم مطابق خواست زمان در آن در نظر گرفته شود. کمیسون تعیین شده باید با نهایت غور و دقت در پیشبرد این دین ملی که بالایشان گذاشته شده است عمل نماید. جای مسرت است که کشور ما بسوی صلح، ترقی و وحدت ملی گام میگذارد و آهسته آهسته درد های گذشته ناشی جنگ و بدبختی را فراموش مینماید نکته مهم که در توافقات بن به آن اشاره گردیده است برگزاری انتخابات است و انتخابات ره گشای بسیاری از مشکلات سیاسی خواهد بود. قانون اساسی جدید که در روشنی آن انتخابات سراسری در کشورصورت خواهد گرفت مسئله مهم برای آینده کشور است وامیدهای زیادی به آینده در آن دوخته شده است مردم ما وآینده شان مستقیماً به نتایج انتخابات وقانون اساسی جدید کشور در ارتباط می نگرند بناءً قانون اساسی جدیدباید طوری تدوین و ترتیب گردد. تا خواست های تمامی باشنده های افغانستان در آن در نظر گرفته شود. خوشبختانه بعد از استقرار اداره انتقالی کمک های بین المللی که به کشور ما وعده شده بود آهسته، آهسته در حال رسیدن است و همگام با ورود کمک های اقتصادی تسوید وبالاخره با تصویب قانون اساسی، تدویر انتخابات و استقرار نظام قانونی در کشوروختم جنگ ها میتوان امید بهروزی داشت ولی مهمترازهمه اینست تا مردم مابااتفاق وهمدلی وبا استفاده از تجارب گذشته خود وطن شان را دوباره اعمار نموده در این راستا ازبذل و زحمت کشی ها بخاطر برآوردشدن این امر دریغ ننمایند.

ادارهٔ انکشاف بین المللی ایالات متحدهٔ امریکا...

پروژه دومی یک سیستم مجهز بل و حسابداری کمپیوتری و پروژه سومی احیای مجدد سیستم تیلفون شهر کابل بوده که تقریباً بیست وچار هزرا فامیل ازآمستفید میشوند همچنان اداره (USAID) در قسمت احیای ارتباط تلیفونی کابل - کندهار نیز وزارت مخابرات را یاری خواهد رساند.

منبع افزود:

وزرات مخابرات که در سال ۱۳۰۸ تأسیس گردیده است مساعدتمودن سهولت های تلیفونی، پستی و تلگرافی به هموطنان ما در سر تا سر کشور از جمله کار های اساسی این وزارت شمرده میشود، که اکنون این تسهیلات صرف در شهر کابل وجود دارد و بس.

منبع گفت: تعداد پرسونل این وزارت به ۱۴۰۳ تن میرسد که از جمله ۲۹۷ تن آن ها خانم هستند طبق یک گزارش دیگر: کودکستان وزارت مخابرات که به کمک مالی اداره انکشاف بین المللی ایالات متحده امریکا USAID بازسازی گردیده است، هفته گذشته در مقر آن وزارت افتتاح گردید.

این پروژه که به قیمت مجموعی هفت هزار دالر امریکائی تکمیل گردیده، زمینه بازگشت کارمندان طبقه اناث باالخصوص بیوه ها را به وظیفه شان مساعد ساخته است که از این پروژه (۲۰۰) طفل، مادران آن و ۲۱استادمستفید خواهند شد در مراسم افتتاح این کودکستان انجینر بریالی معین وزارت مخابرات، برید هینسن معاون سفارت ایالات متحده امریکا، نمایندگان اداره انشکاف بین المللی ایالات متحده امریکا (USAID) و سایر نمایندگان وزارت های مختلف نیز اشتراک ورزیده بودند.

یکی از مسوولین وزارت مخابرات در زمینه گفت:

طوریکه ما در مقابل کمونیزم و تروریزم رزمیدیم باید بخاطر حقوق اطفال خودکه تعلیم آنها است نیز مجادله نماییم.

همچنان یک منبع ریاست کودکستان ها گفت:

تقریباً تمام کودکستانهای که در دوره طالبان ویران و به تاراج برده شده بودند فقط در سال جاری ترمیم و مجداً فعال گردیده اند، که همین اکنون اضافه از ۲۰۰۰۰ طفل در کودکستانهای شهر کابل شامل اند.

یکتن از مسوولین اداره انکشاف بین المللی ایالات مُتحده امریکا USAID به خبر. نگار اراده اظهار داشت:

این اداره از شروع سال ۲۰۰۲ مجموعاً ۱/۹ ملیون دالر امریکائی را به ۲۶ ارگان دولتی افغانستان مستقیماً کمک کرده است، این اداره تعدا زیاد کودکستانها را ترمیم نموده، که هدف از آن بازگشت دوباره کارمندان طبقه اناث به خصوص خانم ها بیوه به وظایف شان میباشد، برعلاوه اعمار تعمیرات، سایر کمک های ادارهٔ USAID دفاتر دولتی را قادر نموده است تا خدمات بیشتری را به مردم عرضه نماید.

نامبرده افزود:

هدف از این کمک ها این است تا مردم افغانستان در یابند که صلح در کشور شان تأمین شده و ایالات متحده امریکا مستقیماً به دولت جدید افغانستان کمک مینماید.

جمشید

ایا د کوکنارو د نه کرلو فرمان...

دا چې اوس، اوس په ځمکو کې د کوکنارو دتخم د شیندلو وخت دی، ولې دغه دهقانان دیته وهڅول شول چې بیا کوکنار وکري ځیني سوالونه راولاړوي.

د ټولو نه دمخه دیادولو وړ خبره داده چې ولایتي اداري په دې ونه توانیدې چې د اړول شوو فصلونو په بدل کې هغه پیسې چې د دهقانانو سره یې وعده شوې وه، هغوی ته ورکړي، او آن تر دې چې اوس چې د هغه وخت څخه شپږ، اوه میاشتې تیرېږي، دهقانان په دې نه دي بریالي شوي چې خپلې پیسې ترلاسه کړي، ګرچه ولایتي چارواکي دا وائي چې مونږ ته لا د مربوطه ځانګو لخوا چې ددغو پیسو وعده راکړشویوه، پیسې نه دې راکړ شوي خو ددې سره، سره هم ددغو ولایتونو څخه داسې اطلاعات هم شته چې دهغو پیسو څخه چې دغه ولایتونو ته استول شویوي په سلوکې پنځوس یې هم مستحقو کسانو ته نه دي توزیع او ویشل شوي، او دغه پیسې هم لکه څنګه چې په دغو ولایتونو کې د ګمرکاتو، ترانسپورت او ددولت د نورو عایداتي منابعو عایدات په شخصي جیبونو کې ولیږي، دا پیسې هم په ډېره سخاوتمندی سره پخپلو ډلو او ټپلو کې ویشل شویدي، او ځینې دا سوکسانو د دغو پیسو د حوالې پارچې ترلاسه کړي او پیسې یې د مربوطه ځایونو څخه اخیستي دي، چې هیڅ پوله او پټی یې نه درلود او یایې یوه ولیشت کوکنار هم نه وو کرلې.

بله اساسي خبره داده چې دولت په دومره موده کې چې د دوو فصلونو د کرلو زماني واټن دي، په دې هکله چې دهقانانو ته لازمې آسانتیاوې برابرې کړي او یا هغوی ته ددغه ژوند د ښمنه بوټي په ځای داسې تخمونه او نور ضروري شیان برابر کړي، او هغوی دیته وهڅول چې، د کوکنارو په ځای نور مثمر او ګټور شیان که څه هم چې ګټه یې دومره زیاته نه وي، وکري هیڅ لازم اقدام او ګټور ګام پورته نه کړ، بلکه یوازې یې دحکمونو او فرمانونو په صادرولو بسنه وکړه په کار دا وو چې په دې هلکه جدي او غوڅ کار شوي وای، د پیسو دصحیح او په ځای ویشنې پوښتنه شوي وای، او په دې برخه کې د خپل سریو او تالامخه نیول شوي وای.

څه چې شوي، هغه شویدي، او په زغرده ویلای شو چې ښه هم نه دي شوي، خو اوس چې بیا د دغې زهرجن او تباه کن بوټي د کرلو وخت دی په کار دادی چې هغه څه وشي، چې په تیر فصل کې باید شوي وای او هغه په دې معنی چې د دهقانانو او بزګرانو سره دې دتیرو شوو ژمنو د عملي کولو او هغوی ته د خپلو فصلونو معاوضې، دیوه با صلاحیته، واکمن او صادق هیات لخوا ورکړای شي بزګران دې په دې ډاډه کړای شي چې دولت څه وایي په هغې عمل کوي او ددې تر څنګ دې ډېر ژر د غنمو د اصلاح شوو تخمونو سرو او داسې نورو و سایلو د توزیع بهیر په دغو ولایتونو کې تر غور لاندې ونیسي اوپه دې هکله دې ډېر ژر اقدام وشي. او که داسې ونشي نوبیا به د هغو چورلکو د تیلو او د سون موادو مصارف د هغې څخه مونږ ته ډېر ګران پریوزې، کوم چې د کیمیاوي موادو په واسطه د کوکنارو د فصلونو د منځه وړلو په خاطر یې مصرفوو، او دا پته هم نه لګیږي چې د کیمیاوي موادو استعمال به څه نور منفي اثرات په دغه خوار او کړیدلي اولسونو پرځای پریږدي.

ACKU

مردم چي میگویندا!

می گویند: آیا آقای حامد کرزی آرای ملت افغان و بخصوص شهریان کابل را که طی سالهای متمادی بار همه مصایب جنگ های داخلی را بدوش کشیده و اکثراً از آن زیانمند شده اند در نظر داشته اند که آزموده ها را به ازمایش گرفته و کسانی را بخاطر همکاری با اداره شان دعوت می نمایند.

می گویند: ریشه های اکثر وقایع وحوادث و اختلافات که در ولایات کشور بـه وقوع می پیوندد از مرکز آب می خورد، از اینجاست که عده یی بخاطر نمایش قدرت و داشتن دست بالاتر به ولایات و مناطق تحت نفوذ خویش قومانده میدهند.

می گویند: با "برنده" شدن سازمان های مذهبی در انتخابات پاکستان که اکثراً با طالبان و سازمان های تروریستی همکاری نزدیک داشته اند عده یی از خوشحالی در پشاور، کویته و ولایات سرحدی کشور خودمان با راه اندازی محافل شادمانی به اتن هم پرداخته اند و حاکم شدن قریب الوقوع به کابل را به همدیگر مژده میدهند.

می گویند: حکومت ایالات متحده امریکاموافقه نموده است که عده یی از محبوسین پاکستانی را از محبس گوانتانا مو آزاد سازد. حکومت پاکستان سخت تلاش دارد که زمینه رهایی پنجاه و هشت تبعه زندانی خود را که در کنار طالبان و حامیان شان در افغانستان می جنگیدند و توسط ائتلاف بین المللی دستگیر گردیده اند فراهم سازد، شاید از این افراد در ساختار حکومت جدید در پاکستان استفاده میشود.

می گویند: کابینه آقای حامد کرزی تصمیم گرفته است بخاطر مبارزه با وضعیت کنونی وجوابگویی بهتر به مسایل مطرح تجدید آرایش نماید، در نظر است تغیرات و تبدیلاتی در کابینه صورت گرفته و مسوولین جاهای شانرا با همدیگر تعویض نمایند.

خسرومحیا

خبر دار!

اتحاد نیروهای مذهبی پاکستان که در انتخابات آنکشور برنده خؤانده شده اند اعلام کردند: کسی را برای خواندن نماز مجبور نمی سازند ونظامی را چون نظام طالبان در کشور شان رویکار نخواهند آورد زیرا ایشان برخلاف طالبان از طریق آرا عامه برای حکومت کردن برگزیده شده اند، ایشان در رابطه با افغانستان چنین اظهار نظر دارند که حکومت بعد از طالبان در افغانستان نماینده مردم افغانستان نیست.

اراده:

برادران به دوران رسانیده شده! مردم ما می گویند: (به هررنگی که خواهی جامه میپوش ـ من از طرز خرامت می شناسم)، اینکه شما برخود چه روا می دارید و برما چه روا داشته اید ملت مسلمان افغانستان بسیار و بسیار خوب می داند.

آرای مردم شما هم معلوم است و طریق به اقتدار رسیدن شما هم، این که چه می توانید در داخل کشور خود تان انجام دهید وچه ماموریتی را عهده دار شده اید هم از کسی پوشیده نیست و اینکه چه سیمیانی را بازهم برای ما به پذیدن خواهید گرفت هویدا است اما آنچه را که شما نمی دانید و باید بدانید اینست که اگر در افغانستان کسانی بوده اند که مایه افتخارات ما را برای شما هدیه کرده اندو شما ذریعه موتر های به خیرات گرفته شده تان آنها را به کشور خود تان انتقال داده اید. کسانی دیگر نیز وجود دارند که از وجب وجب خاک شان با اهدای سرها شان دفاع کنند وبه سرقت رفته های شانرا از کام شما ها بیرون بکشند.

اوریدلي مو دي

اوریدلي مو دي چې: د هرات، فراه، هلمند او کندهار په لویو لارو کې په رڼا ورځ ټوپك مارپه ډاټسنو کې سرك ته راووځي، یو او دوه موټره نه چې په لس هاو موټرونه ودروي او د سپرلیو ټول شته او مالونه لوټوي او بیا په ډاډه زړه پخپلو موټرو کې سپریږي او پخپله مخه ځي.

اوریدلي مو دي چې: د دولت د څارنې د هیات د لیږلو له برکته اوس د کابل ـ ننګرهار په لویه لاره کې ټوله ورځ تر ماښامه نه پاټك شته او نه ټوپكیان، خو د ماښام د لمانځه سره سم بیا ټوپکیان په سرك راپیدا کیږي او د ټولې ورځې قصور د هغه موټرو او مسافرینو څخه وباسي، چې د ماښام څخه وروسته په دغه سرك تګ او راتګ کوي.

اوریدلي مو دي چې: د پکتیا په ولایت کې د منې د فصل کوکنار کرل شوي وو، چې دادې اوس یې غوزې وهلو ته نژدې دي او بزګران به په نژدې راتلونکې کې اپین راټول کړي که په نورو ولایتونو کې هم د منې د فصل کوکنار وکرل شي، نو بې له شکه چې د طالبانو د وختونو په څیر به نړیوال ریکارډ بیا هم وګټو.

اوریدلي مو دي چې: د کابل ډښار د تیلو په ټانکونو کې بئې یو شان نه دي، د دوؤ څنګ تر څنګ ټانکونو د یو لیتر په بیه کې د دوؤ څخه تر دریو زرو افغانیو پورې تفاوت وي، او کله چې د بئې د جګوالي پوښتنه ورڅخه کوې نو وایې چې زمونږ د ټانګ تیل ترکمنستاني او یا پاکستاني دي، او د هغه بل ټانګ تیل ایراني دي، ددوی څخه د پوښتنې هم هیڅ مرجع نشته او که وي هم څوك یې پوښتنه نه کوي او د بیغمي په خوب ویده دي.

روښان

اراده از شما و درخدمت شما

اراده در جهت ایفای نقشش که خدمت به وطن وهموطنان عزیز است و به زودی به عنوان روزنامه یی با تیراژ بلند در دسترس قرار خواهد داشت تصمیم به برداشتن گام بیسابقه یی در عرصه مطبوعات واعلانات کشور گرفته است

. اراده نشر اعلانات مفقودی اطفال، مریضان دماغی، کمک های موسسات خیریه، سره میاشت وزارت های معارف، شهدا ومعلولین وامور مهاجرین را رایگان به نشر می رساند.

اراده از نشر اعلانات فوتی، مراسم فاتحه خوانی هموطنان و عرضه خدمات اجتماعی رایگان دولتی وشخصی ومفقودی اسناد هویتی هموطنان صرف وصرف مصارف چاپ را تقاضا می کند.

اراده اعلانات سایر دوایر وارگانهای دولتی را با پنجاه فیصد تخفیف می پذیرد.

اراده اعلانات تجارتی وتبلیغاتی تجار ملی موسسات وانجوهای داخلی وخارجی را با سی در صد تخفیف به نشر می سپارد، اراده مشوره های مسلکی را درترتیب اعلانات وتهیه عکس برای آنها بگونه رایگان عرضه میدارد. مرجع مفاهمه : دفتر نشریه اراده، پروان مینه ایستگاه سینما بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد و یاتلیفون موبایل :۰۷۰۲۲۴۷۸۷

شایقین بشتابند

به یکنفر محاسب که به امور اداری و حسابداری بلدیت کامل داشته و به لسان انگلیسی و کمپیوتر آشنا باشد وچهار نفر اشخاص فنی ومسلکی که سابقه کار در ماشین طباعتی نوع (MIEDLE)، پلیت سازی و صحافی داشته و خواهان کار در بخش مطبعه اراده باشند ضرورت است.

شایقین کار در اراده با مراجعه مستقیم به دفتر نشریه می توانند معلومات مزید دریافت دارند.

اراده

د افغان نشراتي مرکز خپرونه

هر چهارشنبه زیر نظر هیت تحریر انتشار میابد

موسس: حاجی سید داود

مدیر مسوول: ظهور افغان

سکرترمسوول: سید محمد "عادل"

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد

آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد)

تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷

اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است

کمپیوز: محمدعارف "لودین" دیزاین وچاپ: مرکزخدماتی کمپیوترومطبعهٔ افغانزی

تلیفون: ۰۰۹۳۷۰۲۷۵۱۹۱

ERADA

Weekly Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center

Fuonder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan

Mobil Phone: 070279304

قیمت یك شماره ۲۰۰۰ افغانی